


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 19 آپريل 2015 م

# راځې چې ګران افغانستان جوړ کو

جيګ شی ځوانانو خپل ارمان جوړ کو
راځی چی ګران افغانستان جوړ کو

دلته سيندونه دلته غرونه ژاړی
دلته هم ميندی هم پلرونه ژاړی

دلته د سولی لمر رڼا نه کوی
دلته تورتم کی زخمی زړونه ژاړی

بس دی وحشت راځی خپل ځان جوړ کو
راځی چی ګران افغانستان جوړ کو

ليونتوب بس دی نور هوښيار شی خلکو
له دی غفلت خوب نه بيدار شی خلکو

نورو هم ځمکه هم اسمان پرينښود
بس دی بدلون ته نور تيار شی خلکو

راځی د دی سپيرو ډاګونه ګلستان جوړکو
راځی چی ګران افغانستان جوړ کو

محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org